مارچ 25، 2020

# د نیو مین میشتوالو لپاره د COVID-19 تازه وضعیت

1. په 12م مارچ د 1 پېښې څخه پیل شوی او موږ نن په مین (Maine) کې له 100 څخه زیاتې پېښې لرو.

2. COVID-19 (کورونا ویروس) یوه وژونکې ناروغي ده او په مین کې دېره په چټکتیا سره خپرېږي. دا ناروغي حقیقي ده!

3. موږ ستاسي څخه غوښتنه کوو چې د ټولو لارښوونو درناوی وکړئ او تعقیب یې کړئ تر څو ستاسي په ټولنه کې د ویروس خپرېدو مخنیوي کې مرسته وکړي.

4. مهرباني وکړئ هر وخت خپل ځان، خپله کورنی او ټولنه خوندي وساتئ. هیڅ یو کس خپل کور ته داخلېدو ته مه پرېږدئ پرته له هغه خلکو چې دلته اوسېږي.

5. خپل لاسونه زیات په کثرت سره پاکوئ او خلک یا نور توکي لمس کولو څخه تر شوني حده ډډه کوئ. هر یو توکی لمس کولو څخه وروستو خپل لاسونه پریمینځئ.

6. تر شوني حده په کور کې دننه پاتې کېږئ. د خپلي کورنی غړي او دوستان د هټی سودا کولو لپاره بدرګه کولو څخه ډډه وکړئ. ماشومان باید له لوبغالي څخه ډډه وکړي.

7. په کور او ولسي ځایونو کې له 10 کسانو څخه زیاته ګڼه جوړولو څخه ډډه وکړئ. ټولنیز خلوت یا جلا والی پدې مانا نه دی چې د دوستانو/خپلوانو کورونو ته لاړ شئ او له 6 فټونو څخه کم واټن کې کښېنئ.

دا پیغام د نیو مینرز کمیونټي کولابوریټیو لخوا دی.

Catholic Charities
Office of Maine Refugee Services

PASHTO